PASHTOON

PSDP

FOUNDER: BACHA KHAN

# پښتون

بنسټ اېښودونکی باچاخان


تل به په لار د مېړنو سره ځم
خوچې راغونډېږه یومرکزئي نکړم

یمه پښتون د پښتنو سره ځم
هرې تپې ته د جرګو سره ځم
( حمزه شینواری )

ګڼه (۱۱) کال ( ۱۹۹۵ ) میاشت ( جنوری )

د ډګروال احمدجان لیکنه

## پښتانه د ډیورنډ کرښه نه پېژني :

ګوم خونه یم که ارمان کووم که ژاړم | د باغ ګل می غوړېده زه ځینی لاړم
د هیواد یاران می هر زمان یادېږي | چې ئې ځم په خوب ووینم نو ویاړم
چې قاصد د یار د خولې کتابت راوړي | خوټۍ لوند په اوښکو نکړم نه ئې نغاړم
زه خوشحال پخپل قسمت پوره حیران یم | چې به چېرته ګرځېدم په چېرته ولاړ یم

د نړۍ ټولو اولسونو د تاریخ په اوږدو کې جلا جلا کارنامې او مېړانې کړېدي او د خپلو هیوادونو او هیوادوالو د پاره ئې داسې خوږې او ترخې خاطرې او یادونه پرېښې دي چې نني نسلونه د هغې په قضاوت یا وياړي او یا دغه پېښې د خپل هیواد د تاریخ شرمېدونکې پېښې بولي او لعنت پرې وائي، چې زموږ ګران هیواد افغانستان هم د دې پوښتنې ډېر شاهدي کوي.



د هیواد نني او راتلونکي نسلونه به هېڅ وخت د میرویس نیکه، احمدشاه بابا، ملالۍ، وزیر اکبرخان، سردار محمد ایوب خان، غازي امان الله خان او فخر افغان باچاخان او نورو زیاتو نامتو افغانانو کارنامې او مېړانې چې زموږ تاریخ پرې تل وياړي، له یاده ونه باسي، خو برعکس هغه تالي ختې کوډاکیان چې د انګریزانو، روسانو، او نورو بهرنیو ملکونو د لاس الې ويو اوپواځې د خپلو بادارانو د خوشحالۍ په غرض ئې د خپل هیواد د حیثیت، ناموس او خپلواکۍ ځینې تیرشوي وو او تېرېږي، هر پښتنی افغان ته د الوي شرم او عار دي نو تل به ئې غندي او د لعنت لاړې به پرې توکي.

تاریخ شاهد دی چې انګریزانو خپل کوډاکي شاه شجاع د خپلو شومو مقصدو په خاطر ولوباوه او همدغسې امیر عبدالرحمن خان د خپل تاج او تخت لپاره د انګریزانو د لاس الې شو چې په ۱۸۸۰م کال کې د افغانستان د خپلواکۍ او ځمکنۍ تمامیت نه د انګرېزانو په وړاندې تیرشو، او د ۱۸۹۳ کال د نوامبر د میاشتې په دولسمه نېټه ئې یو بل د بې ننګۍ ډک عمل چې هغه د ډیورنډ شرمناکه کرښه ده، پرته له دې چې د هیواد مشران او ځیان پرې پرېکړه وکړي پخپل سر امضا کړه، امیر عبدالرحمن پوهېده

چې که چېرې د ډیورنډ خبره ونه مني نو د انګریزانو او افغانانو درېیمه جګړه به پیل شي، نو د هیواد هغه خلک چې د ده د ۱۴ کالو د پادشاهۍ په دوران کې د ده د ظلمونو څخه پوزې ته راغلي وُ، د امیر په ضد به پورته شي — په داسې حال کې چې د انګریزانو دولت حاضر نه وُ چې یو ځل بیا پر افغانستان باندې د یرغل پواسطه د خپلې امپراطورۍ شرف او حیثیت ترخا ورولاندې کړي. هغه په دې پوهېده چې ټول ملت د یخوانۍ دښمن په مقابل کې د مړانې په لیکه ودرېږي او د ډېرو میلیونه سرحدي لسان د انګریزانو پر ضد د جګړې ډګر ته راوځي او د افغانستان اردو به هم دوه برابره د خپل شمېر په پرتله وجنګیږي. د انګریزانو لخوا د ډیورنډ معاهده د وخت امیر امیرعبدالرحمن خان پرته له دې چې د معاهدې په شکل او محتویاتو ته ورزیات کړي په پټو سترګو امضا کړه او یو لوی تاریخي مسوولیت ئې د تل لپاره په غاړه واخیست.

د افغانستان باتور اولس د دې پټې لوظنامې د امضا کولو نه سخت په قهر راغلل او تر هغه وخته چې انګریزان ئې د خپل وطن نه وو نه ایستلي خپلو مبارزو ته دوام ورکړ او د هاغه تاریخ راهیسې د غه خیالي کرښه ئې نه ده منلې او نه ئې پېژني.

افغانانو ټولو جهانیانو ته ښودلې ده چې د آزادۍ په خاطر هر افغان هر راز قربانۍ ته تیار دی. روسان چې د افغان اولس د مېړانې څخه پوره خبر نه وُ د دې باتور ملت نه ناخبر شول، د سرې اردو په قول ټوله قوت نه روسان بې شمېره انساني او مالي تلفاتو نه خبر شول او د دوی نظامي دیکتاتورې د پناه ګنډې ته وغورځوله.

موږ او س په دې حساسو شېبو کښې د مکګو ملتونو، د نړۍ د ټولو مترقي قوتونو څخه هیله مند یو چې د افغانستان د سولې او امن په خاطر ئې خپلې هلې ځلې وکړي او همدا رنګه د امریکا د متحده ایالاتو د جمهور رئیس څخه غوښتنه کوو چې د مکګو ملتونو د پروګرامونو پوره ملاتړ وکړي.

ددې ګڼې نور مطالب:
د ښاغلي نیک محمد پوروز „مرکه.
د کلن د علمي سیمینار پرېکړه لیک او نوي زړې

Pashtoons Social Democratic Party (PSDP)

۱۹۸۵/۱/۲

## مـــخـبـــر ـــا تـــی اعـــــــلا مــــیـه

بـــاندی وروســتـیو وخـتــیـو کـی د پـښـتـنـو د تـولـنـیـز اولـسـولـیـز گـونـد

دغــرو تـعـقـیـب او نـیـونـه پـه افـغـانـسـتـان کـی لازیـاتــه شـوی دی

څــنی ئی پـه شـرنـیـو تـیـاروـنـو تـه پـه تـیـښـتـه مـجـبـوره شـوی دی او

څــنی ئی لا د ډیـرو سـخـتـو شـرایـطـو لانـدی هـمـدغـلـتـه اوسـیـږی.

لـکـه چـی د پـښـتـنـو تـولـنـیـز اولـسـولـیـز گـونـد چـی پـه ۱۹۸۱ عـیـسوی کـال

کـی د روسـانـو او د روسـانـو دگـوډاگـی رژیـم پـه ضد د مـبـارزی لـپـاره

مـنـځ تـه راغـی او پـه دی وخـت کـی پـه کـی د مـخـتـلـفـو گـونـدونـو

دیـمـوکـراتـان او سـولـه غـوښـتـونـکـی کـسـان راغـونـد شـول هـر ډول دیـکـتـاتـوری

سیـسـتـم ردوی او پـه هـیـواد کـی د دیـرگـوندیـزه پـارلـمـانـی دیـموکـراسـی د پـلـی

کـولـو هـڅـه کـوی چـی دا د مـلاتـی رژیـم د ویـری او انـدیـښـنی سـبـب گـرځـیـدلـی دی

د پـښـتـنـو تـولـنـیـزاولـسـولـیـزگـونـد چـی د بـاچـا خـان د مـلـی ازادی بـخـونـکـی نـورځـنـگ

پـه بـرخـه دی او د عـدم تـشـدد د فـلـسـفـی پـیـروی کـوی پـه دی عـقـیـده دی

چـی پـه زور کـلـی نـه کـیـږی او پـه موازی د ملـوی جـرگـی او د خـبـرو اتـرو د

لاری پـه افـغـانـسـتـان کـی سـوله او امـن راتـلای شـی پـه جـگـړه کـی شـکـیـلی

د لـسـی پـه هـیـواد کـی د سـولـی او امن د راوسـتـلـو تـوان نـلـری بـلـکـه افـغـانـسـتـان وی او

پـه دغـه جـگـړه ماری د نـی

خـــبـــر ورکــــــوونـکـــــی:

د پـښـتـنـو تـولـنـیـزاولـسـولـیـزگـونـد د خـبـروونـود جـرگـی

مـشـر مـحـمـد شـبـریـن گـــردیـوال

ذمـــه وار عـزیـز رحـمـان سـرشـار

د پـښـتـنـو تـولـنـیـزاولـسـولـیـزگـونـد پـریـس سـکـرتـری

## سپیل

مالیدلی د فرنګ ښکلي جبزونه (۱)، چه دالاند ے ئې ترغوږ ئې ټنګ وهي سیندونه

مالیدلی محلونه دالنـــدن جینکۍ مستې ازادې ګل بدن

مالیدلی دایتلي ښیسته ښارونه سره انګور سره ئې شراب او سره ګلونه

مالیدلی د پیرس ښاپیرۍ ښکلې په کردار ګفتار خوږې لکه بلبلې

مالیدلی امریکه کښې دې ښارونه چه وړ ئې خوړته ئې رسي مکانونه

مالیدلی تاج محل غوټۍ د ګلو د دهلي ښکلي ښارونه د مغولو

خو چه وینم زه خپل د ختو کور رانه هیر شي محلونه ښیسته نور

دانزۍ تنګې کوڅې زماد کلي ورته څه دي د دنیا ښارونه ښکلي

چه خړې ورورد پښتون سینې له دې شي د رنه هیر به قول ښا د څجرو برشي

خدایه شکر چه پیدا دې له دې قام کړم د پښتون د نر وجود دې یو اندام کړم

څه به کړمه د لندن لوړې محلونه د پیرس څو ښیسته رومي ګلونه

په والله چه له جنته به شم ستون
که نغل پکښې وانوړم د پښتون

## د PSDP د ننګیالي پښتون د مخکښ غړي ښاغلي ـ د ګروال نیک محمد „نوروز" سره مرکه:

خبریال: معاون ګران برهاني

لومړی پوښتنه: ښاغلي نیک محمد „نوروز" تاسې په افغانستان کې د جنرال په بست کې ډېره موده کار کړېدی او پوره تجربه لرئ تاسو د افغانستان اوسنی پوځي حالت څرنګه ارزیابي کوئ؟

ځواب: څرنګه چې د نجیب الله په وروستۍ دوره کې



ډېره زیاته توجه ملي ګارډ او د دوستم ملیشاؤ ته وه او اردو ته توجه کمه وه نو دهوی ورځې په ورځ ډېره اردو مخ په ړنګیدو وه، همدا علت وو چې ملي روحیه ورځ په ورځ د اردو په منځ کې د بې نظمۍ او خرابۍ سره مخامخ کیده چې په نتیجه کې ئې د مکارو ملیتونو د سولې د پروګرام پر ضد ټولټه (د شمال ائتلاف) را منځ ته شو او په نتیجه کې ملایانو د قدرت واګې لاس ته راوړې.

په وضاحت سره ویلای شم چې د بنیادي ملایانو د قدرت څخه راپدې خوا د افغانستان تاریخي اردو او نظامي تعلیمات ئې له منځه وړل.

دوهمه پوښتنه: که مهرباني وکړئ د شمال د ائتلاف په اړوند رڼا واچوئ.؟

ځواب: کله چې د شمال ائتلاف منځ ته راغی هغوی وکولای شول چې د مزار، کندز، سمنګان، بغلان او بالاخره د پروان اداره په لاس کې واخلي.

ویلی شم چې د دغه ائتلاف د نجیب الله حکومت د ملیشاوو او خان غوښتونکو ملایانو د ګروپونو په مرسته را منځ ته شوېدی.

د دغه ائتلاف په نتیجه کې د افغانستان وسله والې قواوې د ملایانو لخوا خلع سلاح شوې او عملاً د افغانستان اردو چې د اوږد تاریخ لرونکې وه ختمه شوه او ځای ئې د تنظیمونو مسلحو ډلګیو ونیو او ملائي رژیم په ټول وطن کې حکومت شو. په افغانستان کې اسلامي شوراګاني جوړې او د دموکراسۍ پر ضد یو عمومي حرکت پیل شو تر هغه چې په افغانستان کې روښانفکران، لوی افسران، عالمان زندانونو ته واچول شول او عمومي ترور شروع شو او بیا په نامه د جهادیانو د غولولو لپاره عمومي بخښنه اعلام شوه د دغې غولونکې بخښنې د اعلام په نتیجه کې زه د ملایانو د کودتاه نه وروسته په دریمه ورځ د هرات په ولایت کې بندي شوم په محبس کې د ډېرو غیر انساني جزاګانو، وهلو، بې خوبۍ او تهدید ولو سره مخامخ وم. وروسته د څلورو میاشتو څخه ئې زه کابل ته د طیارې په ذریعه انتقال کړم او د دشت درک په زندان کې بندي کړم.

په همدې شکل د PSDP ګڼ شمیر غړي وژل شوي او یا زما په سرنوشت اخته شول.

دریمه پوښتنه: ستاسو په عقیده د افغانستان د ربړې پوځي حل ممکن دی.؟

ځواب: د افغانستان اوسنۍ لانجه په پوځي ډول نشي حل کیدای ځکه چې د دوی په منځ کې صرف د قدرت په ویش جګړه ده او ټول ملایان د یو هدف لرونکي دي او د دې توان نلري چې په وطن کې سوله تأمین کړي د سولې د راوستلو لپاره یوازېنۍ لاره د ډېر ګوندیزه دموکراسۍ پلي کول او د خلکو په خوښه د ازادي ټاکنې له لیارې د حکومت جوړیدل دي پدې لار کې د مکارو ملتونو هڅې کمزورې دي او قوي ملاتړ ئې په کار دی.

پښتونولي، پټلنولي او اولسولي نه شکیدونکي اړیکي لري.

که غلوی دی په سرئی اره ده.

# نوې زېرې

خبریال: عزیز "سرشار"

**کلن:** د ۱۹۹٤ عیسوی کال د سپتمبر په ۲۴ نیټه دپښتنو د ټولنیز اولسولیز-
گوند په نوښت اوبلنه د المان د اتحادی جمهوریت دکلن په ښار کی "په
افغانستان کی د سولی او دیموکراسی" د سرلیک لاندی یو علمی سیمینار جوړ
شوی وو . چی یو شمیر افغانی پوهانو او روښانفکرانو پکی برخه درلوده. د
دغه علمی سیمینار په پای کی د غونډی گډون کوونکو په اکثریت سره
لاندی پریکړه لیک تصویب کړ :

۱-: افغانستان یو لدی چی یو اسلامی هیواد دی اود بیلو بیلو وروسنو
قومونو گډ کور دی، د یو ځلی ملی شخړی د ملی ملو عنعنانو
له مخی د لویو جرگو په وسیله حل و فصل کړی دی .

۲-: د سیمینار گډ ونکوونکی پدی باور دی چی د لوی جرگی د جوړیدو او په افغانستان
کی د سولی د پروسی د دایمی تامین په خاطر د ملکو ملتونو د فعالی ونډی او
پراخه مادی او معنوی مرستی ته اړتیا ده . پدی برخه کی د گاونډیو هیوادونو
د ناوړه لاسوهنو مخنیوی هم یو بنسټیز شرط دی .

۳-: په پای کی بیول شوی لویه جرگه به په افغانستان کی د بشپړ اوربند د یوی
مؤقتی اداری، د اساسی قانون تسوید او د ازادو انتخاباتو لپاره لازم شرایط
برابرول د خپلو دندو په سر کی ولری .

٤-: مؤقته اداره به دنده ولری چی د سولی د دایمی تأمین په خاطر ټولی وسلی
راټولی، ملی اردو تأسیس او په هیواد کی د بیا رغونی پراخه پلان طرح او د عمل
ډگر ته وړاندی کړی .

٥-: د سیمینار گډون کوونکی غوښتنه کوی چی د سولی د پروسی تأمین او ټینګښت
په جریان کی د بشر د حقوقو، د خلکو ملی او کلتوری ازادیو او په هیواد کی
د نارینه وو او د ښځو د حقوقو تساوی ته دی ژوره عملی پاملرنه وشی .

٦-: د سیمینار گډون کوونکی د ټولو افغانی وطنپالو ځواکونو او ملی ټولنیزو
شخصیتونو څخه غوښتنه کوی چی په هیواد کی د سولی او دیموکراسی د تحقق
لپاره په یوه پراخ ملی او اولسی غورځنگ کی سره راټول شی .




دپوهاند ډاکټر قاسم جمدر، د مشری لاندی د PSDP د پوهنیز سیمینار ښتمه.

**کلن:** د ۱۹۹٤ عیسوی کال د نوامبر د میاشتی په ۱۲ نیټه (د پښتو دیوالی ورځ)
د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند له خوا د کلن په ښار کی د پښتو د یووالی
ورځ په شاندارو مراسمو سره ونمانځل شوه . غونډه د ملی سرود
په اوریدو سره پیل، وروسته د PSDP د مشر ډاکتر کبیر ستوري
له خوا د دغه ورځ په هکله وینا واورول شوه ، د غونډی په ترځ
کی د ملګرو له خوا مقالی، پیغامونه ، مشاعره او او د موسیقی پروګرام
د ښاغلی استاد شاولی او انور خیال له خوا میلمنو ته وړاندی شو .
په دغه غونډه کی یو شمیر افغانانو او بهرنیو میلمنو گډون
کړی وو . غونډه د حاضرینو د ولولو سره د ملی اتڼ په وړاندی
کولو سره پای ته ورسیده .

**کلن:** د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند د ځوان پښتون ډلی
د کلن په ښار کی د تیر کال د سپتمبر په میاشت کی د دغه
ډلی د مشرانو د نوی ټاکنی لپاره غونډه وکړه .
د نوموړی غونډی ته د PSDP د مشر ډاکتر کبیر ستوري په ګډون
د ګوند د مشرانو د جرگی یو شمیر غړی هم بلل شوی وو .
غونډه د ځوان پښتون د مرستیال عبدالولی "برهان" له خوا پیل
او وروسته د رایو په اتفاق سره د غونډی گډونکو امیر کرور پښتون
د غونډی د مشر په توګه وټاکه ، د PSDP د ځوان پښتون د ډلی
د پریکړی په بنسټ د رایو په اکثریت سره ښاغلی غلام نبی "سحر"
د ځوان پښتون د ډلی د مشر، ښاغلی عارف غرگی د دغه ډلی
د لومړی مرستیال، اکرام الله خان د دوهم مرستیال، ایمل خان
ستوری "د لوی منشی، طارق حبیب" د بهرنیو چارو د څانګی د
مشر، امیر کرور پښتون د خپرونو د چارو د مشر او ایمل
هاشمی" د مالی چارو د مشر په توګه وټاکل شو .

**ویسلینګ:** په تیر عیسوی کال کی د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند
د مشرانو د جرگی په بلنه د پښتنو د ټولنیز اولسولیز گوند د ناروی د
څانګی مشر ښاغلی محمد نادر "سرشار" ، المان ته راغلی وو .
د PSDP د مشر ښاغلی ډاکتر کبیر ستوری ، د گوند د مشرانو د جرگی
او نورو غړو سره د افغانستان او سیمی په حالاتو خبری اتری وکړی .
د PSDP د ناروی د څانګی د مشر ښاغلی "سرشار" سره د پښتنو د ټ
، مجلی خبریال مرکه کړیده چی په دغه مجله کی به نشرته وسپارل شی .

پاتی په ٤ مخ کی...

دیوقام ژبه چی ورکه شی
هغه قام ورک شی .
"باچاخان"

دچاخونکارے خوبولی ستر گے "اجمل خټک"
لکه لمبے وی د فتنونه ډکی
هم سوزوونکی هم خوروونکی غونډے
لکه کاسے وی د لمبونه ډکی
دچاخبرے په ترخو کینے خوږے
لکه بانے وی د کیلونه ډکی

## د دریم مخ پاتې
## نوې زېرې . . . . .

کلن: د تېر کال د نوامبر د میاشتې په ۱۳ او ۱۸ نېټه د کلن په ښار کښې د پښتنو د کلتوري ټولنې لخوا د هېواد څخه لرې وطنوالو ته کلتوري ماښامې جوړ شوي وو په دغه ماښامیو کې د پښتو د موسیقۍ د نامتو سندرغاړو ښاغلي اُستاد شاولي او ښاغلي الوزخیال لخوا د پښتو موسیقۍ وړاندې شوه.

د ۱۸ د نوامبر د ماښامې په ترڅ کې د پښتنو د ټولنیز او لسولیز ګوند د کلتوري څانګې لخوا د پښتنو د کلتوري ټولنې مشر محمد شیرین ګردیوال „ته د پښتنو کلتور ته د ښه ستر یکېدو نکو خدمتونو له کبله د باچاخان جایزه او د پښتونخوا څخه راغلو سندرغاړو اُستاد شاولي ته د موسیقۍ د ارموني د شهنشا لقب، ښاغلي الوزخیال ته د باچاخان جایزه او د اُستاد پوهنېزه درجه، ښاغلي استاد الوزشا ته د طبلې د شهکار لقب او ځوان فنکار صاحب ګل ته د موسیقۍ د اُستاد پوهنېزه درجه ورکول شوه.



احمدشاه بابا

ستا لعشق د وینو ډک شو ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي ځلمي سرونه
د ډهلي تخت هېرومه چې را یاد کړم
ځما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه



د پښتنو دیوالي ورځ (۱۲ نوامبر)


| | |
|---|---|
| خپرونکی: | Hrsg: Sozialdemokratische Organisation der Paschtunen e.V. (Mitglied der Pashtoons Social Democratic Party) |
| زمه وار: | V.I.P.: M.Scherien Gerdeawal<br>Piccoloministr. 266<br>50827 Köln<br>Tel: 0221/6320443 |
| د خپرونې جرګه: | Redaktion: Aziz Rahman Sarshar<br>Abdul Nasir Stori |


### خبرتیا!

د ۱۹۹۴ کال د پښتنو دیوالي د جشن او د پښتنو کلتوري ټولنې د ماښامیو درې کسټونه هر کسټ په ۲۰ مارکه ناسوته وړاندې کېږي. د پښتو موسیقۍ مینه وال کولای شي چې دغه کسټونه د پښتون اخبار د پتې د لارې لاس ته راوړي.

## په جرمني کښې " پښتون رسالې" د چاپ په هکله یادونه:

په کال 1928ع د مۍ په میاشت کې باچا خان بابا "پښتون رساله" جاری کړه، چې کله به اووه ورځنی، کله لس ورځنۍ، کله میاشتېنۍ او کله به دړې میاشتنۍ خپریدله.
په 1930ع کې چې باچا خان بابا بندي شو، نو پښتون رساله هم بنده شوه، چې بیا د1931ع کال د مۍ په میاشت کې ښاغلي عبدالخالق خان خلیق ته حواله شوه .
کله چې رساله په ډسمبر کې چاپ شوه، نو بیا بنده شوه ، په کال 1938 ع کې یو ځل بیاجاری شوه او په1941ع کې بنده شوه، په 1945 کې بیا خپره شوه او د پاکستان دجوړیدو سره سم بیا بنده شوه، چې دا لړۍ (سلسله) همداسی وغزېده

پدی ترڅ کې د « پښتون رسالې» دبنسټ ایښودونکي (باني) فخرافغان باچا خان بابا په غوښتنه او دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند د مشر ډاکترکبیر ستوري په لارښوونه د پښتون سوشل دیموکراټیک پارټۍPSDP په المان کې د پښتون رسالې خپرولو ته ملا وتړله اوپه 1981 ع کال کې ئې یوه ځانګړې ګڼه په الماني ژبه هم چاپ او خپره کړه.
په 1982 ع کال دمارچ په میاشت کې ئې لمړنۍ ګڼه ، چې اخباري بڼه ئې لرله چاپ اوتیته (خپره) شوه.
د 1995 ع کال تر جنورۍ ئې تر یولسمې ګڼې پورې چاپ او خپرې شوې

درنښت
نصیر ستوری